# کتاب او کتابتون

کتاب او کتابتون دپوهي او معلوماتو دترلاسه کولو او د ذهني ودي لپاره کتاب ترټولو غوره او اغیزناکه وسیله ده. دکتابونو دترلاسه کولو او مطالعي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره بیا ترټولو ښه ځای
کتابتون دي. موږ په داسې
زمانه کې ژوند کوو چې
کتابونه ډیر او ترلاسه کول
یې ډیر اسانه دي. اوس
هم ډیر خلګ ډیر انسانان
دکتاب په قدر او ارزښت
نه پوهیږي، له ګټو یې نا
خبره دي، دوي په دي نه
پوهیږي چې کتاب هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد دي چي موږ ته وړیا
او پرته له بدیل څخه
معلومات او زده کړه راکوي،
هیڅ کله نه ستړي
کیږي، تل موږ ته سترګې
پر لاره وي، هرڅه چي
ورڅخه وپوښتو په
مهرباني سره یې ځواب
راکوي. که په غور سره
وګورو له کتاب څخه غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی او له کتابتون څخه غوره
ځای په نړۍ کې نه
شته. که څوک غواړي چې
د سوکاله او نیکمرغه ژوند
خاوند شي نو هغه دې له
کتاب سره ملګرتوب
وکړي. کتاب دانسان لپاره
ډیحربنه دوست او ملګرې
دی. له کتاب سره ملتیا
اوملګرتیا موږ دعادي خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چاپیریال ځخه د ډیر
لوړو افکارو او تصوراتو
نښي ته بیا یي، د لوړو او
سترو انسانانو سره مو
ملګري کوي او دهغو دفکر
او نظر ځخه مو خبروي.
یو نومیالي ایټالوي
پوه(پرارک) دخپلو کتابونو او
کتابتون په ستاینه کي له
پند او خوند ځخه ډکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې لري. نوموړي وايي:
(زه يوه ډله ملګري او
دوستان لرم چې شپې او
ورځې له هغو سره تيروم
زما ټول دوستان
دنړۍنوميالي دي چې پيړي
او
زمان په کښي خوندي دي
دغو دوستانو ډير ليري
واټنونه وهلي او زما تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوره رارسيدلي دي. دوي
زما په زړه او سترګو کي
ځاي نيولي دي. هر وخت
چي غواړم دهغو ليدو ته
ورځم او چي هر چيري
ځم له ځانه سره يي
بيايم. دومره خوږ ژبي دي
چي څوک يي په خبرو نه
مړيږي دژوند پټ رازونه
څرګندوي دتيري زماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپند او خوند کيسي راته
کوي او دانسانانوبرخليکونه
راښيي په دي
مي پوهوي چي ژوندځنګه
وکړم داچي زه دا
ملګرې او دوستان ماته
څومره ګټې رارسوي زما
ژبه يي دستايلو وړ او
شميرلو وس او توان نه
لري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب هغه خوا خوږي
اومهربان ملګرې دي چي
خیانت نه کوي دوه مخي
توب او کینه نه پیژني او
په زړه کي یي رښتینوالی،
وفا او لورینه په څپو ده.
له خپل ملګرې او مینوالو
سره هیڅ کله خیانت نه
دي کړي او نه یي کوي کټ
مټ دیوي هنداري په څیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ښه او بد په کښې بې
له تیر وتنې په خپل رنګ
بریښي او خپل هر څه
زموږ مخې ته ږدي. رښتیا
رښتیا وایي تاریخ یې له
کلو کلو څخه راپاتې دي،
تجربې یې تر لاسه کړې له
هر باغ څخه یې رنګا رنګ
ګلونه راټول کړي او ښکلي
غونچې یې ورڅخه جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي او زموږ مخ ته
يي ديوي تحفي په ډول
ايښي دي.په يوازي توب
کي هيڅ کله زموږ څخه نه
غافله کيږي او موږ نه پريږ
دي چي يوه شيبه
بي ځايه وخت تير کړو.
خو انسان دی چي
هيڅ دکتاب په ساتنه نه
پوهيږي. سره له دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مهال کتابونه او
کتابتونونه ډیر دي او
لاسرسی هم ورته اسانه دی
خو بیاهم ډیر داسي
خلک شته چي دکتابتون
په ګټه او ارزښت نه
پوهیږي حال دا چي له
کتاب څخه غوره او وفادار
ملګرې نه شته. کتاب هر
وخت ستاسو د خدمت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

استفادي لپاره چمتو دی.
کتاب او مطالعه ډیرې ګټې
لرې خو باید چې د
مطالعې لپاره غوره او
ګټور کتابونه انتخاب کړو
او هم په مطالعه کي ډیر
افراط ونه کړو چې جسم
او زهن ته مو زیان ونه
رسیږي. په ښه زوق اوشوق
سره خپلې مطالعې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ادامه ورکړئ چې د
پرمختګ اود ښه استعداد
خاوندان شو.
لیکوال:سعادت الله شمــــس

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**